Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

دويم کال - ۴۳مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۷مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۱/۱۶



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- هرات ته د ترکمنستان د لومړي وزیر د مرستیال راتګ

۲- د شیرخان بندر له لارې د صادراتو زیاتوالی

۳- له روسیې سره د مستقیمو الوتنو د زیاتوالي هڅې

# هرات ته د ترکمنستان د لومړي وزیر د مرستیال راتګ



د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر محترم رشید مردوف د یو لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ هرات ته راغلی و او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د کانونو او پټرولیم وزیر محترم ملا هدایت الله بدري سره یې ولیدل.

د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي همکاریو په پراختیا او د تاپي (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هند) ګازو نللیکې پروژې او اوسپنې پټلۍ ترڅنګ د نورو پروژو په اړه خبرې وشوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو څرګندونو کې وویل، تاپي پروژې د افغانستان، ترکمنستان او سیمې هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پراختیا له پاره زمینه برابره کړې ده.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په وینا، د سعودي عربستان دلتا انټرنېشنل کمپنۍ په دې پروژه کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې او غواړي چې تر هند پورې یې رسولو کې همکاري وکړي.

محترم رشید مردوف په خپلو خبرو کې په تاپي پروژه کې د دلتا انټرنېشنل کمپنۍ د پانګونې هرکلی وکړ او ویې ویل چې د روان میلادي کال تر پایه به د تاپي پروژې کارونه د هرات تر مرکز پورې ورسېږي.

د تاپي پروژې له لارې د ترکمنستان ګاز افغانستان ته او د افغانستان له لارې پاکستان او بیا هند ته لېږدول کېږي. دا پروژه د سیمه ییز اتصال مهمه پروژه ده چې په ترکمنستان کې یې چارې بشپړې شوې وې، خو په افغانستان کې یې چارې د بهرني اشغال د موجودیت له امله نه وې پیل شوې.

د اسلامي امارت له واک ته رسېدو سره سم چې هېواد کې اشغال پای ته ورسېد او د امن څادر خپور شو، نو د بهرنۍ پانګونې او سیمه ییز اتصال لویې پروژې پیل شوې. تاپي هم یوه له هغو مهمو پروژو ده چې اسلامي امارت یې د پیل اراده وکړه او تېرکال یې په افغانستان کې په قوي ارادې سره چارې پیل شوې.

د دې پروژې له امله به د ډېرو هېوادوالو کورونه روښانه شي او صنعتي پارکونو ته به برېښنا هم ورکړل شي او ګڼو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه ایجاد شي. دغه راز، د پروژې له امله به د اسلامي امارت خزانې ته هر کال ډېر عواید جمع شي.

اسلامي امارت د یادې پروژې د بشپړولو په اړه جدي دی او اماراتي مسوولین وخت نا وخت د دې پروژې له چارو لیدنه کوي. تر اوسه د شاوخوا ۱۰۰ کیلومترو په اوږدوالي څمکه د پروژې د پایپ غځولو له پاره هواره شوې او د پایپ غځولو چارې هم په چټکۍ سره روانې دي. د دې پروژې پیل ښیي چې افغانستان کې ثبات د سیمه ییز اتصال له پاره ډېر مهم دی او د افغانستان له همکارۍ پرته د سیمه ییز اتصال بشپړتیا به له ستونزو سره مخ وي. د سیمه ییز اتصال پروژې نه یوازې د افغانستان، بلکې د ټولې سیمې د ښېرازۍ او اقتصادي پرمختګ لامل کېږي.

# د شیرخان بندر له لارې د صادراتو زیاتوالی

د کندوز شیرخان بندر له لارې د هېواد د صادراتو کچه ۶۰ سلنه زیاته شوې ده. د مسوولینو په وینا، هره ورځ له دې بندره له ۵۰ ډېر موټر تګ راتګ کوي.

د مسوولینو په وینا، د شیرخان بندر له لارې د افغانستان مېوې، سبزۍ او نورتوکي روسیې، چین، تاجیکستان او قیرغزستان ته لېږدول کېږي. تقریباً درې میاشتې وړاندې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ځمکې له لارې سوداګري بنده شوه، نو افغانستان له نورو مسیرونو خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړه او د منځنۍ اسیا او ایران له لارو یې د افغان سوداګرو د سوداګرۍ له پاره اسانتیاوې ډېرې کړې، چې له امله یې د افغان بزګرو او صنعتکارانو تولیدات نورو هېوادونو ته په مناسب وخت کې بې له ځنډ او ستونزو رسېږي.

د افغانستان اسلامي امارت له پاکستان سره د لارو تړل مشروط کړي او د لارو بیا پرانیستلو له پاره یې د قوي ضمانت غوښتنه کړې چې دا لارې به په راتلونکې کې د سیاسي لاملونو له امله نه تړل کېږي، او سوداګري او سیاست به سره جلا وي، خو پاکستان دې ډول ضمانت ورکولو ته چمتو نه دی.




اسلامي امارت له روسيې، چين، هند، ايران او د منځنۍ اسيا هېوادونو سربېره د نړۍ له ګڼو هېوادونو سره سوداګريزې اړيکې پراخه کړي او افغانستان يې له هغه حالت ايستلی چې پر يوه هېواد به متکي و. اوس د پاکستان له لارو پرته د افغانستان سوداګريز توکي نورو هېوادونو ته ترانزيټ کېږي او سوداګرو ته په بندرونو کې ډېرې اسانتياوې رامنځته شوي چې دا د هېواد د صادراتو د زياتېدو لامل ګرځېدلي دي. د صادراتو زياتېدو د هېواد په

## له روسيې سره د مستقيمو الوتنو د زياتوالي هڅې

په روسيه کې د افغانستان سفير مولوي ګل حسن حسن ويلي، د افغانستان او روسيې ترمنځ به د مستقيمو الوتنو شمېر زيات شي. د هغه په وينا، په نږدې راتلونکي کې به د کام اير په نوم يو خصوصي شرکت هم مسکو ته مسقيمې الوتنې پيل کړي.

د روسيې په خبر مهم سياسي او اقتصادي ځواک سره د افغانستان د اړيکو پراختيا د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ښه خبر دی. دا د دې څرګندونه کوي چې د نړۍ له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان رسمي او غېر رسمي اړيکې د لا ډېرې پراختيا په حال کې دي. سره له دې چې افغانستان له روسيې سره نږدې ډيپلوماتيکې اړيکې لري، خو د مستقيمو الوتنو زياتېدو سره به د دواړو هېوادونو ترمنځ راشه درشه لا پراختيا ومومي چې له امله به يې سوداګريزې اړيکې لا وغوړېږي او د هېواد د صادراتو کچه به ورسره زياته شي.

